**بسم الله الرحمن الرحيم**

## په سیاسي چارو کې دوه مخې غربي دریځ

**خبر:**

کله چې روسیې پر اوکراین پوځي یرغل وکړ؛ په نړیواله کچه بیلابېلو بنسټونو بېلابېل غبرګونونه وښودل، چې په دې غبرګونونو کې د سپورت له نړۍ څخه هم د اوکراین په ملاتړ له خواخوږیو ډک پیغامونه او غبرګونونه ولیدل شول، چې مختلفو سپورتي سازمانونو یې رهبري کوله، همدارنګه د فوټبال ټولو فدراسیونونو لکه: FIFA او UEFA روسي لوبغاړي او سیلانیان د یوې ګډې اعلامیې په ترڅ کې په دې پلمه وځنډول، چې ګوندې په اوکراین کې له حالت ښه کېدو سره سم به یو ځل بیا فوټبال خلکو ته د سولې او ارامۍ هیلې ورکړي. په دې سره یې د "چمپینز" لیګ لوبې په شمول، چې پخوا به په سینټ پیټرزبورګ کې ترسره کېدې، ټولې هغه لوبې لغوه اعلان کړې، چې پخوا به په روسیه کې ترسره کېدې.

**تبصره:**

د سپورت نړۍ، چې ډیری وختونه بې پرې او غیرې سیاسي ګڼل کیږي، د اوکراین په شخړه کې داخلیږي، دا لومړی ځل دی چې سیاست په سپورتي ډګر کې لوبیږي. د سړې جګړې په جریان کې سپورت د امریکا او شوروي اتحادیې تر منځ د ځواک د ښودلو لپاره کارول کېده او همدارنګه سپورتي پیښې یوازې د لویدیځ لپاره یادګاري ورځې بلل کېدې.

د Stop War (جنګ بند کړئ) په شان هشتاګونه او د فوټبال لوبغاړو په لاسبندونو کې د اوکرین بیراغونه هغه څه دي، چې په سپورت کې د شخړو نښې بلل کیږي. منافقت یې دومره روښانه دی، چې هر وخت لویدیځ تش په نامه ازادۍ، او د بشرحقونو شعارونه ورکوي.

غربي نړۍ د جګړې په غندلو کې ګړندي ګامونه واخیستل او له اوکرایني مهاجرینو څخه یې ملاتړ اعلان کړ؛ خو له مسلمانانو څخه یې هېڅکله ملاتړ نه اعلاناوه، ملاتړ خو لرې خبره ده چې په عراق او افغانستان کې یې په دوامداره توګه د بې ګناه خلکو وینې تویې کړې، هېڅا دا جنایتونه ونه غندل او نه یې هم د دې جنایتونو پر وړاندې د مظلومانو غږ اوارېده. ساده مسلمانانو ته هره ورځ د غرب یو یو منافقت بربنډیږي. کله چې غزه بمبار شوه مصري فوټبالر محمد ابوتریکه ته د هغه بیان له امله سزا ورکړل شوه، چې په خپل قمیص (کمیس) باندې یې د غزې ملاتړ لپاره شعار لیکلی و. دفوټبال لوبغاړی میسوت اوزیل، چې په ختیځ ترکستان کې د چین حکومت لخوا د مسلمانانو په ځورونې نیوکه وکړه، نو د سپانسرشیپ تړونونه یې لغوه شول، له ډېرو نیوکو سره مخ شو او د ده نظرونه سانسور شول.

په ټول توان سره هغه غږونه په مریو کې خپ شول، چې په سوریه او نوره اسلامي نړۍ کې یې د مسلمانانو د مظلومیت غږ پورته کاوه، د روسیې په شمول چې په ۲۰۱۸ م، کې د نړیوال جام کوربنه وه، هېڅ فرد، فدراسیون او دولت ته اجازه ورنکړل شوه چې په میانمار، عراق، سوریې، فلسطین، افغانستان او کشمیر کې د مسلمانانو عامو وژنه وغندي او پر وړاندې یې اقدام وکړي. تاسو وواياست چې نن ټول افراد، فدراسیونونه او دولتونه په اوکراین کې د سولې چیغې وهي؛ په افغانستان، عراق، سوریې، فلسطین، میانمار، ایغور، کشمیر، بوسنیا او نوره اسلامي نړۍ کې مسلمانان له کومې سولې برخمن شوي!؟ د ډنمارک په ګډون ټولو وژونکو دولتونو له هېڅ ډول یرغل، تعذیب، تحقیر او شکنجې څخه لاس وانخیست. نن ورځ په کومو سترګو له روسیې سره په دې پلمه اړیکې پرې کوي، چې ګوندې له بشري او انساني حقونو تیری کوي!؟

د سپورت نړۍ همېشه له سياسي جنجالونو سره مخ ده، ځکه چې د سپورت ملي فدراسيونونه د هېوادونو د سياسي پريکړو ييروي کوي، لکه څرنګه چې قطر نړيوال جام له پراخو اختلافونو او جنجالونو سره مخ شو. د ځينو کليشو برعکس په دې وپوهيږئ، چې سپورت خلک نه سره متحد کوي او نه هم سوله راولي. د سپورت ننۍ نړۍ له نړيوال پانګوال نظم سره مستقيمه اړيکه لري؛ له اسلامي خلافت پرته اوسنی نړيوال نظم هېڅوک نه شي ننګولی او نه هم څوک کولی شي، چې د ظالمانو له شره ميليونونه خلک وژغوري او له ځواکمنو استعماري هېوادونو، جواسيسو او بې عدالتيو سره مبارزه وکړي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر**
**ليکنه: يونس پيسکورکزيک**
**ژباړنه: حمزه "صيقي"**